# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| سیاسی | Political |



بســـــــــــمل

۱۳/۰۹/۱۰

## پخواني کفن کښ ته به دعا وکړئ !

نن د واړه اختر دريمه ورځ ده هغه چا چې دنوکريزو وس درلودلاسونه به يې سره کړي وي خو زړه اونا زړه داځکه چې اوس زموږ بېګناه ولس لاس تړلی او برمته دی نه خو دخپل اسمان واک لري اونه دځمکې، نه يې څوک غم ګاللواو نه ښادي ته پربږدي، په نيمه شپه يې دروازې الوزول کيږي، خويندې اوميندې مو دسپکاوي تر څنګ
په سپيو داړل کيږي دکورنی غړي يې ددوی تر مخ په مرميوغلبېل کيږي او په سبابيا کرزی ايله په ايله يو دوه پمن د هيئت په نوم ورولېږي اوبس خبره سره شي .
موږ دپرديو ترنامشروع يرغل لاندې راغلي يو، زموږ ولس يرغمل او هېواد مواشغال شوی دی له اشغالګرو سره نه زموږ د مذهب او عقايدو خيال شته، نه دمذهبي ورځو اونه زموږ د ژوند کومه پروا لري بس ښه عجيبه پلمه يې پيدا کړې ده :
تروريزم، القاعده او بيا هم تروريزم او القاعده ؟؟
دا يې له ياده وتلي چې تروريزم او القاعده چا وزېږول، چاو وروزل او تر دا نن ورځې يې څوک تمويلوي ؟
دا تروريستان او القاعده که مذهبي موخې لري نوبياولې د فلسطين غم نه خوري هلته ولې نه ورځې چې دلته د پښتنو په . . . ننوتي دي ؟
همدا نن د القاعدې په پلمه امريکايي بې پيلوټه الوتکې په شمالي وزيرستان کې دځړو پښتنوځړ دېوالونه يو ځل بيا په وينو رنګ کړل .
دپنځوشکمنوکورنيوته يې اختريزه ډالۍ ور وبښله نه ثبوت شته، نه شواهدبس په شکمن پسې شکمن مري؟؟
زه نه پوهېږم په دا نهو۹ کلونوکې القاهده څو زره وارې لنګه شوه چې په دادومرو بم وريوکې لانه ورکيږي خو نه نه داد القاعده خبره نه ده دايوازې زموږ بدبختي راغلې چې پخپلو کې ديو اوبل پښې وهوخپل مرګ په خپلو سترګو وينو خو د خلاصون هڅه نه کوو زموږ خلاصون په دې کې دی چې يو منلی ملي مشر ولټوودا کارمو چې وکړ نو به ځواک تر لاسه کړو له هغه څخه وروسته به بيامو‌ږ خلګو ته شرطونه ږدو او که داسې بې تفاوته او يو له بل څخه بېل اوسو لکه دااوس چې يو نو هره شېبه ايت کرسي شريف واياست چې دژوند شېبې مولنډې دي .
په وزيرستان نننۍ بم ورې اوپه روهي ويبپانه کې دالاندې مطلب دې ته اړېستم چې دا ليکنه وکړم که نه نن زما په پلان کې ووچې دپرون اووړمې ورځې په ډول دهېوادګوټ ګوټ ته تيليفونونه وکړم، خپلوملګرو اودوستانو ته داختر مباره کې ورکړم پرون او وړمه ورځ خو هسې هم دکرزې تيليفوني شبکې پېريانو نيولې وې خو نن مې چې داتيليفون ته لاس وروغزاوه د آزادي له راديوڅخه يې په شمالي وزيرستان کې دمرګونوخبر ورکړ نوزه هم حيران پاته شوم چې دا اختر څه ته وايي او دا مباره کي يې په کوم جرئت دوستانو ته ووايم، لښتی لښتی وينې بهيږي موږ لا په خندا خندا داختر مباره کي وايو؟؟
اخېر کوم اختر؟
هيله من يم چې زماليکنه غلطه تعبيرنه شي موږدالله تعالی بنده ګان يوهغه لوی ذات موږ ته عقل اوشعورراکړی دی نو ځکه بايد شعوراً اختر ووپېژنو.
غزتمنو خويندو او وروڼو!

کله چي روسانو افغانستان اشغال کړ زه په هغه وخت کې په تاشکند کې محصل وم د روسانوداشغال په لمړۍ ورځ مي دخپلو نږدې ملګروپه کډون غذايي اودرسي اعتصاب وکړ بيامې دروسانو په يوه لسيزه اشغال کې د ټل لپاره خپل غبر اوچت وساته خدای شته چې څوځوځلي مې سزاوې هم ليدلې دي البته دازما او دبل هر افغان وجداني مسؤليت و چې يو څه خو يې بايد کړي وای .
زموږ ملک روسانوپه غټ حماقت سره اشغال کړ داشغال ځل هم سم نه ورته ژر يي سترګې خړې شوې وتبتېدل خو دا اوسني کربوړي بيا دومره مکار دي چې :

هم دي ووژني پخپله هم په تا باندي ژړا کا *** واشنګټن لري پلانونه پري غوليږي لندن هسي

لکه زه په يار مين يم بل به نه وي . . .
مانا داچي دمهوسټراتيژيکو اهدافواوسيمي د اشغال په منظور يې دسپتمبر ديولسمي ((ډرامې)) په پلمه له ملګروملتونوڅخه دګيډۍ قباله تر لاسه کړه اوس نو په ناحقه زموږ بېګناهو سرونه ريبي ، جګړه اوږدوي آن تر کسپين بحيرې پورې ځانونه رسول غواړي اوس يي که منئ او که يي نه منئ .
داچي امريکايان وايي راتلونکی کال وزوداهسي ببو لالي دي دوی هيڅکله هم نه وزي دادی په افغانستان کې ډېرې مهمې پوځي اډې جوړوي خود اوس مهال لپاره خپل فزيکي حظور دشمال په خوا خپلواهدافو ته ور نږدې کوي .
زموږ دګران افغانستان د تجزيي خبرې څه توکی نه دي، په قرغزستان کې سياسي بدلون را مينځ ته شو پرون د تاجکستان په پوله ډزې پيل شوې سبا به يې تاسي پخپله وګورئ چې اژدها په کومه خوا روان دی .
په هرصورت خبرې ډېرې خو سر يې يو دی را ځم اصل مطلب ته هغه دا چې روسانو په لس کلن اشغال کې دومره ظلم له افغانانوسره نه دی کړی لکه امريکايي رامبوګان يې چې په دوو دريو مياشتو کې کوي که تاسودالاندي ليکنه په خير سره ولولئ نو پخواني کفن کښ ته به دعا وکړۍ :
http://www.s-rohi.com/khabar_id_15037.html
په افغانستان کي امريکايي سرتېرو افغانان دساتيری لپاره وژلي او دبدن غړي يې ديادګار په توګه له ځان سره اخستي
دا مهال په ۱۲ تنه امريکايي سرتيري په دې تور محاکمه کيږي چې دوی په کندهار کې ملکي وګړي دخپلې ساتيرۍ په موخه وژلي دي او ددوی دبدن غړي لکه دلاس ګوتې ديادګار په توګه له ځان سره اخستي دي له دې ۱۲ تنو څخه يې ۵ افغانان داسي وژل لکه کوم سپورت ، چې کوي او په دې ګرم هم پيژندل شوې دي ۷ نور يې بيا پردې ګرم شوي دي ،چې ولي يې دخپلو ملګرو دا ډول چلند او ګرنې پټې کړې وې دا 12 تنو دخپلسرۍ پلټنو او تالاشيو پرمهال دافغانانو له کورونو سره ، پيسي او افيون هم غلا کړې دی.
دا ډله ،چي په کندهار کې مېشته ده او د ( ستراېکر ) په نوم پيژندل کيږي پر هغه سرتيري بريد کړی دی ،چې د دوی دا ډول کړني يې رسوا کړې دي او خپلو مشرانو ته يې له دې پرده پورته کړې ده ،چې دوی په لوی لاس افغانان وژني او له دې کار خوند اخلي .
دځيرونکو راپورونه دا په ډاګه کوي ډګرمن کالفين ګيبس ،چې کله له عراقه دافغانستان کندهار ولايت ته راورسيد خپلو ملګرو ته يې په عراق کې دملکي وګړو دوژلو کيسې په خوند کولې او خپلې نوې لارې او چلونه يې ورسره شريکول دبېلګې په توګه : نوموړي څرنګه دسرک پرغاړه د روان سړي مخ ته بم وغورځوه او څرنګه ځای پر ځای ومړ . څيرونکي دا هم زياتوي ګيبس له خپل يو بل ملګری ،چې ګيرمي مورلاک نوميږي دا هڅه کړې ده چي د وژني ځانګړې ډله جوړه کړي او دوی دخپلو درې ګزمو پر مهال ډيری افغان ملکي وګړي وژلې دي .
دا ډله پردې تورنه شوې ده ،چې څرنګه يې دګل محمد په نوم يو افغان وګړی پر ډزو وژلی دی.
دارمي ټايمز په نوم ورځپانه کاږي : يو امريکايي سرتيري ديادګار په توګه دوژل شوو افغانانو ګوتې راغونډې کړې دي او ځينو نورو بيا د مړو له جسدونو سره يادګاري انځورونه اخستي دي دا پيښي دعراق له هغو سره ورته دي
دسپتمبر ديوولسمي پيښي له صحنې څخه امريکايي ساينس پوهانو ته داسي اثباتيه مدارک په لاس ورغلي چې دا بدمرغه ډرامه رسوا کوي تاسو دا لاندې مطلب ولولئ :
http://www.s-rohi.com/khabar_id_15032.html
په امريکا کې ساينسپوهان د سپتمبر د يولسمې د پيښې له اسرارو پرده پورته کوي
د سپتمبر د يولسمې د نهمې کليزې په درشل کې يو شمېر ساينسپوهان په نيويارک او لاس انجلس کې د سپتمبر د يولسمی د حقيقت په نامه د کنفرانسونو په جوړولو سره هڅه کوي د دغې پېښې د پردې ترشا له واقعيتونو څخه پرده پوره کړي. دوی وايي چې د هغو موادو له تجزيې څخه چې د نيويارک له برجونو څخه لاس ته راغلي ښکاري چې په دغه پېښه کې له ډېرو زوررور چاودېدونکو توکو څخه چې د ترهګرو لاسته نه شي ورتلای کار اخيستل

شوی. همداراز دوی د دریم برج د نسکورېدو په اړه چي تر اوسه ادعا کيږي په خپله نسکور شوی ، وايي چي دا له چادونکو توکو پرته هيڅ امکان نه لري چي په خپله په ازاده توګه نسکور شي.
**پرون مي دآزادي راديو تر شنه اسمان لاندې پروګرام کی دسپتمبر ديوولسمی پېښې په اړوند څو خبرې وکړې هيله ده چي زموږ ګران اوهېوادپال ويبپاڼي چلوونکي يې دامکان په صورت کي زما له دې ليکنې سره يو ځای خپرې کړي .**
**د خپلي ليکني په وروستی برخه کي يو بل تازه مطلب چي همدا اوس مي له تاند څخه را واخيست تاسو ته وړاندې کوم هيله ده چي دپرنګيانو څېره لا نوره هم پسې وپېژنئ :**

**((افغانــــستان کــــي برتـــانوي ســـرتيري د پـــوډرو پـــه قاچـــاق کـــي ښـــکېل دي))**
*Sunday, 09.12.2010, 12:58pm (GMT)*
**http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand1&article=21769**
تاند د سپتمبر ۱۲ : برتانيوي پوځي پوليس د هغو ادعاو په باب پلټنـي کـوي چي ګواکي پـه افغانستان کـي د دغه هيواد ځيني سرتيري ښايي د هيروينو په قاچاق کي لاس ولري .
پوځي مامورين وايي دوی له دې خبر دي چي په قاچاقو کي د سرتيرو د ښکېلېدا په باب ادعاوې شوي دي .
د ادعاو تر مخه برتانيوي سرتيرو له قاچاق وړونکو څخه هيروين اخيستل او په پوځي الوتکو کي يـې لـه افغانستان څخه دباندې ايستل .
ايرلنډې ورځپاڼې ايونينګ ايکو په دې باب ربوټ کي ليکلي چي د برتانوي پوځي پوليسو له خوا پلټنه په هلمند کي د کمپ بستين او کندهار پر هوايي ډګرونو راڅرخي .
ورځپاڼه دا هم وايي چي د دغو هوايي ډګرونو د امنيت لپاره نور ګامونـه اخيستل شـوي دي او هغـه سپي پکـي ډير شوي چي مخدره توکي بويولی شي .
دا خبر په دې لا ډير حيرانونکی دی چي د طالبانو د حکومت لـه نسکوريدا وروسته برتانويانو پـه افغانستان کـي د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کي فعاله ونډه درلوده .
برتانيايي ځواکونه په هلمند کي ځای پر ځای دي چي د افغانستان تر ټولو ډير کوکنار پکي کرل کيږي .
شننونکيو تاند ويبپاڼي ته وويل دا خبر به په افغانستان کي د برتانوي پوځ په باب تصور او نظر لا خراب کړي .
افغان چاروکي او ځيني عادي وګړي پر برتانيايي نيت شک لري چي ګواکي د افغانستان چارو ته د پاکستان د ګټو له سترګو ګوري .
له روهي او تاند څخه په مننه
عــــــزيزانـــــــــو!
اوس نو تاسي ووایاست چي څه بايد وکړو تر څو رښتيني اخترونه زموږ انګړ ته را ورسيږي؟